# د پښتو په متلونو قرآني اغېزې

پوهنيار فريدالله انديال، پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، غور لوړو زده کړو موسسه

**لنډيز**

متلونه د ګړني ادب يوه مهمه برخه ده چې د ټولنيز ژوند له ډېرو اړخونو سـربېره د يو مسلمان ملت ديني او مذهبي مفکورې هم په کې انعکاس موندلی وي. همدې ته په کتو زموږ ولسـي خلکو هم په خپلو متلونو کې د قرآن کريم له ايتونو رنګ اخيستی چې لوسـتي او نالوسـتي يې د خپلو خبرو اترو د پخلي او پند له پاره کاروي، دلته موخه دا وي چې د ټولنې د سمون، د خلکو د پند او لارښوونې له پاره يې کاروي. پښتو ژبه کې ډېر داسې متلونه شته دي چې د قرآن کريم د ايتونو پر بنسټ رامنځ ته شوي او يا ترې اغېزمن شـوي دي. د دې اغېزو سـتر لامل زموږ د مسـلمانو خلکو د خپل قرآن او دين سره د مينې او وينې ښکارندوی کوي.

**کليدي کليمې:** پښتو متلونه، قرآني اغېزې

**سريزه**

متلونه د شـفاهي ادبياتو يوه مهمه برخه ده چې د ټولنيز ژوند ټول اړخونه په کې بيان شـوي او د متل په لنډو جملو کې يو لوی مفهوم او پيغام ځای شـوی وي. که څه هم متلونه نورې ډېرې خواوې لري، موږ په دې مقاله کې يوازې هغه متلونه راوړي چې د قرآن کريم د ايتونو پر بنسټ رامنځ ته شوي او يا ترې په يو ډول نه ډول اغېزمن شوي دي. دلته موږ هڅه کړې لومړی مو د قرآن کريم آيت راوړی او له هغې وروسـته اړوند اغېزمن شـوی متل راوړل شـوی دی. دا ټوله څېړنيزه موضـوع په همدې ډول پای ته

رسـيدلې ده. بله خبره دا ده په دې مقاله کې هڅه شـوې چې اړوند متلونه له بېلابېلو ټولګو او کلياتو نه را اخيستل شوي چې کټ مټ د قرآن کريم د يوآيت مفهوم، پيغام يا ژباړه ده او ځينې متلونه په مفهوم کې سره يو ډول ښکاري. دا هم د يادونې وړه ده چې د پښـتو په متلونو قرآني اغېزې موضـوع په اړه څېړونکو او کره کتونکو په ځينو اثارو کې ځينې متلونه راوړي او بحث يې پرې کړی، خو د يوې ځانګړې مقالې په توګه دغسې په پرله پسې ډول کار نه و شوی، نو پر همدې بنسټ مې ياده مقاله ليکل شوې ده.

## د څېړنې ارزښت

د دې څېړنيزې مقالې ارزښت دا دی چې لوستونکي به د متلونو په ديني او مذهبي اړخ خبر شي او په دې به وپوهيږي چې دغه متلونه ديني ا ساس او بنسټ لري چې لا خبرو اترو ته پياوړتيا وربښـي او د اړوندې خبرې پخلی کوي. بل ارزښـت يې دا دی چې لوستونکي ته د خپلو مشرانو او تېرو نسلونو ديني او مذهبي مفکوره څرګنديږي.

## د څېړنې موخې

د هغه متلونو پېژندل او راسپړل چې د قرآن کريم پر بنسټ رامنځ ته شوي دي.

پښتو ژبه کې د دغو متلونو د رامنځ ته کېدو څرنګوالی راسپړل او پېژندل دي.

## د څېړنې پوښتنې

په پښتو متلونو څه ډول قرآني اغېزې پرتې دي او څومره ترې اغېزمن ښکاري؟

د دې ډول متلونو رامنځ ته کېدو لامل څه او ولسونه ورته څه ډول ژمن دي؟

## د څېړنې تګلاره

د دې څېړنېزې مقالې د څېړنې ډول کتابتوني او مېتود يې تشـريحي او مقايسـوي دی، څکه يو شمېر متلونه د قرآني اغېزو سره پرتله شوي دي.

**مناقشه**

متلونه د ګړني ادب یوه مهمه بــــرخه ده چې په لنډو خبرو یا جملو کې یو لوی مفهوم ځای شوی وي.که چېرې وغواړو چې د یو ملت ا ستعداد، وړتیاوې، رواني ځانګړنې او د ټولنیز ژوند له ټــولو خواوو څخه ځان خبر کړو، نو په عمومي ډول شفاهي ادبیات او په ځانګړي ډول متلونه يې یوه ښــه ســرچینه ده، ځکه په متلونو کې د ټولنیز ژوند ټولې خواوې څرګندې شوي، زیاتره متلونه د عـــوامو د ذهنیت او تجربې پر بنسټ رامنځ ته شــوي، نو ځکه په کې مصــنوعیت نه لیدل کیږي. په متلونو کې د نورو ټولنیزو خواوو ترڅنګ د یو قوم یا ملت دیني او مذهبي مفکوره هم ځان راڅرګندوي او دغه خوا هم د دین په خوږو مالامال ده. پوهاند حبیبي د متلونو په اړه لیکلي:« پښــتو متلونه ډېر لوی مقصد په لنډو ویناوو کې ښکاره کوي او د ډاډ وړ ګڼل کیږي او په وینا کې د قالب او شاهد مثال لري (پتنګ، ۱۳۷۵ل) .

د متلونو د پیدایښــت په اړه په یو اثر کې لیکل شــوي:« متلونه هغه وخت د ولس په ژبه جاري شـــوي چې د ولس ژبې لا د لیک په قید کې نه وې راغلې. متلونه چې د ژبې باارزښــته پانګه او د اولس د ژوند پېښــو او کلتور هنداره ده په ژبه کې د پیدایښــت څو لارې لري چې تر ټولو با ارزښته او مهمې لارې يې دا دي:

- ✓ د طبيعي او ټولنیزو پېښــو له درکه هغو ته د ارزښــت ورکولو او په مســتعار ډول په تیپیکو پېښو کې د کارونې او تکرار له لارې.
- ✓ د تاریخي پېښو د درک او انعکاس له لارې.

- ✓ د اشعارو او سندرو له لارې.
- ✓ بيخي محدوده برخه د کتابونو له لارې.
- ✓ د مذهبي احکامو او رواياتو له لارې.
- ✓ د نورو ژبو د ترجمې او اخيستنې له لارې (کريمي، ۱۳۶۰ل).

د متلونو ويونکي، زمان او مکان هم معلوم نه وي او يا يې معلومول ګـــــران کار دی، ځکه دا د ټول ولس مشترک مال او ذهني پانګه ده چې د يو شخص پـه ملکيت کې نه راځي. په اړه يې يو ليکوال داســې ليکلي دي:« ځينې متلونه دومره پخواني دي چې اصلا د هغې ريښې نه شو پيدا کولی، خو دومره ويلای شو چې دا متلونه د پېړيو پېړيو راهيســې د انســانانو په ژوندانه پورې تړلي او نســل په نسـل انتقال شـوي دي (کريمي، ۱۳۶۰).

همدا رنګه د پښــتو متلونو د پيدايښــت او پيل په اړه په يو بل اثر کې لولو:(( د متلونو د پيل وخت څرګند نه دی، ځکه چې پښـتون اولس پينځه زره کلن معلوم او پنځوس زره کلن ورک تاريخ لري او دغه ډول ژبني نوښتونه طبعا د دوی له پيدايښته ورسره مله دي او څوک نه شــي کولی چې ووايي، د متلونو د کارونې د پيل دقيق او کره وخت کوم دی؟ نو ځکه دا ويلی شو چې له کله نه د اريانا په تاريخي ځمکه پښتانه هـست شوي، متلونه ورسره سم ايجاد شوي دي (وفا، ۱۳۹۶ل) .

زموږ په ټولنه کې هر رنګه متلونه مـوجود دي ځينې يې ډېر ادبي او سپېڅلي، خو ځينې غير ادبي او سپک متلونه هم موجود دي چې د ټولنې د بېلابېلو قشـــرونو نمايندګي او استازولي کوي، چې د ادبي او سپېڅلو متلونو په رامنځ ته کېدلو کې د عالمانو او اديبانو ونډه درنه او د غير ادبي متلونو په ايجاد کې عام اولس يا بې سواده قشـــر تر ټولو ډېره ونډه لري. په اړه يې په يو اثر کې لولو: ځينې متلونه ادبي او ځينې نور يې ډېر سپک او

په بازاري ژبه وي، چې دا سپک متلونه په حقیقت کې د خلکو د عامو افکارو ښه ممثل ګڼلی شو او دا د خلکو د پرګنو نظر بلل کیږي ( کریمي، ۱۳۶۰ل) .

که څه هم د متلونو په رامنځ ته کېدو کې عوام ډېر رول لري، خو د دیني او مذهبي متلونو په رامنځ ته کېدو کې د قلم د خاوندانو او دیني عالمانو ونډه درنه ښکاري، ځکه د قلم خـــاوندان د قلم او دیني عالمان د اسلامي زده کړو او تبلیغ له لارې مروج کړي، چې د متل درجې ته رسیدلي او د متل بڼه یې خپله کړې ده. قرآن کریم یو داسې الهي قانون او کتاب دی، چې په نړۍ کې ډېر لوســتونکي لري. د قرآن کریم د ډېر تلاوت، دیني زده کړو، تجارت، د حج مراسم، له نورو ژبو ژباړې، دې سیمې ته د اسلام راتګ او له اســلامي نړۍ ســره د پښــتنو ســیاســي اړیکې د دیني متلونو په رامنځ ته کولو کې رغنده ونډه لري. دا نه یوازې لیکوالان او شاعران د قرآن کریم تر تاثیر لاندې راغلي او د قرآن کریم له ایتونو یې الهام اخیستی، بلکې ولسـي خلکو هــم په خپلو خبـرو کې د قرآن کریم له ایتونو رنګ اخیستی. پښتانه فطرتا مسلمانان پیدا شوي او د اسلام دین د دوی په خټه کې اغږل شـوی، دغه دیني متلونه د پښـتنو کلکه او ټینګه عقیده له مذهب او دین سره ثابتوي، چې لوستو او نالوستو ټولو په هسکه غاړه او ورین تندي منلي. دیني او شــرعي مضــامین یې په خپلو ذهنونو کې داســې مدغم او هضــم کړي چې د ټولنې مشـــران او کشـــران، لوستي او نالوستي یې د نصیحت او لارښوونې په توګه د ټولنې د سمون له پاره په خپلو مجلسونو او خبرو کې د متل په توګه کاروي.

پښتو ادبیاتو کې د لیکني ادب په پرتله د ګړني ادب تاریخي لرغونوالی ډېر دی، یعنې د پښتني ټبر له پیدایښت سره سم رامنځ ته شوی او د اسلام مبارک دین نه پخوانی برېښي چې آن لرغونو آریایانو ته رســیږي. اوس پوښـــتنه دا ده ایا دغه متلونه چې موږ په دې مقاله کې پرې بحث کوو، دا د اسلام نه مخکې هم په دې ډول موجود و او که نه؟

دا متلونه د قرآن کریم له ځینو ایتونو سره په مفهوم کې یو څه شباهت لري،که د پښتنو ديني او مذهبي تړاو او تېنګښت ته سړی فکر وکړي، نو کېدای شي داسې متلونه د اسلام نه مخکې هم موجود و، ځکه داسې ډېرې بېلګې شته چې د لرغونو پښتنو عنعنوي دودونه، پښتني فطرت او نور ډېر خویونه له ديني او مذهبي خواوو سره اړيکې لري، يعنې دغه متلونه د ديني او مذهبي اړخونو سره په مفهوم کې يو څه ورته والی لري، ځکه موږ د اسلام نه مخکې د ولسي ادب غني زېرمې لرو، کېدای شي چې په متلونو کې هم داسې متلونه وي چې پخوا موجود و، خو دا موضوع نورو دقيقو څېړنو او سپړنو ته اړتيا لري او د يوې مقالې په لمن کې نه ځايېږي. اوس هغه متلونه يو يو تشريح کوو چې د قرآن کريم له ايتونو يې رنګ اخيستی او قرآني اغېز پرې څرګند وي.

د انسانانو په ټولنيز ژوند کې يو والی او اتفاق ډېرې ګټې لري او په يووالي سره د ژوند ډېرې ستونزې حل مومي او هم ورسره په ټولنه کې پرمختګونه او هوساينې رامنځ ته کيږي. په دې اړه الله تعالی په قرآن کريم کې داسې فرمايلي دي:«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَاتَفَرَّقُوا »(سُورة اَل عمران ۱۰۳ ايت) ژباړه: ټول يو ځای شئ، د الله ج رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرک کيږئ مه.

که اوس د قرآن کريم همدې سپارښتنې او پيغام ته ځير شو، نو د همدې مفهوم او پيغام اغېزې موږ د پښتو په لاندې متلونو کې وينو:

د يوه لاس نه ټک نه خېژي (کريمي، ۱۳۶۰ل).

اتفاق کې برکت وي (وسيم، ۲۰۱۴م).

کله چې يو مسلمان له چا سره نيکي کوي،که دغه نيکي د الله تعالی د رضا په خاطر وي، نو الله تعالی يې اجر او ثواب هم ورکوي او که چيرې دغه خپله نيکي د يو مطلب

او مقصــد له پاره کوي او یا پرې احســان اچوي، نو دغه نیکي د الله تعالی په دربار کې قبوله نه ده، څکه الله تعالی په قرآن کریم کې داســې فرمایي:« لَاتُبْطِلُوا صَــدَقَتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى.»(سورة البقره: ۲۶۴ ایت) ژباړه: خپل خیراتونه په احسان بارولو او ازار رسولو، د هغه چا په څېر مه خاورې کوئ.

که د قرآن کریم دې پیغام ته وګورو، نو پښتانه هم دغه خبره د متل په شکل کوي چې له چا سره ښه کوئ احسان پرې مه اچوئ. په دې متل هم قرآني اغېزې جوتې دي. لکه:

ښه چې دې یاد کړه، نو دې برباد کړه (کلېوال، ۱۳۹۴ل).

په دنیا کې چې کوم کارونه کیږي،که هغه پټ وي او که ښــــکاره وي، په دې ټولو الله تعالی عالم او پوه دی، د هغه له ارادې د ونې یوه پاڼه هم نه خوري،په دې اړه اللّٰه تعالی په سورت الانعام کې داسې فرمایلي دي:« وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا.»(سورة الانعام: ۵۹ ایت) ژباړه: له ونې څخه کومه رالوېدونکې پاڼه داســې نشــته چې هغه پرې عالم نه وي.

که د دې آیت شــریف مفهوم او پیغام ته ځېر شــو، نو پښــتانه هم کټ مټ یاد مفهوم د متل په څېر په خپلو خبرو کې اســتعمالوي او د خپل زړه تســکین پرې کوي، نو په دې ځای کې هم په پښتو متل باندې قرآني اغېز څرګند دی.لکه:

د خدای بې حکمته یوه پاڼه لا نه خوري (کلېوال، ۱۳۹۴ل).

دا یو حقیقت دی چې الله جل جلاله د ښــځې او مېړه په منځ کې مینه او محبت اچولی او هغه یې د یو بل لباس او جامه ګرځولې، یعنې ښــځه او مېړه د یو وجود مثال لري، د ښــځې ټول پټ او ښــکاره مېړه ته او د مېړه ټول پټ او ښــکاره ښــځې ته معلوم وي، نو ښــځې او مېړه دواړو ته لازمه ده چې دغه رازونه وســاتي او د یو بل پرده پوښ اوســي،

ځکه اللّٰه تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي: « ... هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ق. »(سورة البقره ـ ۱۸۷ ایت). ژباړه: هغوی ستاسې جامه او تاسې د هغو جامه یاست.

که د دې آیت مفهوم او پیغام ته وګورو، نو د پښتو په متل یې اغېز څرګند دی او پښتانه یې په خپلو خبرو اترو کې د یو متل په بڼه داسې کاروي:

ښځه د تن جامه ده (وسیم، ۲۰۱۴م).

که د چا د ژوند نېټه پوره نه وي،که هر څومره تکلیفونه او ستونزې پرې راشي، هغه به ژوندی وي او چې کله یې نېټه پوره شوه، نو اللّٰه تعالی یوه ثانیه هم د هغه مرګ نه مخکې کوي او نه وروسته کوي. همدا خبره اللّٰه تعالی په قرآن کریم کې داسې کوي:« فَاءِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَايَسْتَئْخِرُونَ سَاعَةً وَلَايَسْتَقْدِمُونَ.»(سورة النحل ۶۱ ایت).ژباړه: کله چې هغه نېټه(د مرګ یا عذاب) راځي، نو له هغه څخه یو ساعت هم وړاندې یا وروسته نه شي کېدای.

که اوس د دې آیت مفهوم او پیغام وګورو، نو اغېز یې کټ مټ د پښتو په متل پروت ښکاري او پښتانه یې هم سختیو، ناروغیو او ناوړه پېښو په وخت وایي چې مخاطب ته ډاډ او سکون ور وبښي او هغې ته وایي چې مرګ په نېټه دی، کله چې وخت پوره شو،که په بړستن کې هم وې، نو مرګ درسي. لکه:

اجل په نېټه دی.

بې اجله مرګ نه شته ( صمیم، ۱۳۹۶ل).

کله چې موږ او تاسو خوراک او څښاک کوو، نو په خوراک او څښاک کې باید اصراف ونه کړو، ځکه ډېر خوراک د انسان روغتیا ته زیان رسوي، یعنې په خوراک او څښاک کې باید اصراف ونه شي. په اړه یې اللّٰهَ تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

«...وَ كُلُوا وَ اشْرَبُوا وَلَاتُسْرِفُواج »(سورة الاعراف، ۳۱ ایت) ژباړه: او خورئ، څښئ او له حد څخه تېرى مه کوئ.

که موږ د دې آیت مفهوم او پیغام ته متوجه شو او بیا د پښتو لاندې متل ته وګورو، نو اغېز پرې ځپاند او ښکاره دی.

الله وایي، خوره اوڅښه، خو نه تر ستوني پورې (صمیم، ۱۳۹۶ل).

ځومره ژوندي مخلوقات چې اللّٰه تعالی په دې دنیا پیدا کړي، ټولو ته اللّٰه تعالی روزي ورکوي او د هغو له ولړې او تندې خبر دی، یعنې په دنیا کې هېڅ داسې ژوندی مخلوق نشته چې هغه دې له ولږې مړ شوی وي. اللّٰه تعالی هغه شپه نه سبا کوي چې د خپل مخلوق رزق یې برابر کړی نه وي. الله تعالی داسې فرمایلي دي:« وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْأَرْضِ اِءلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌ فِى كِتَبٍ مُّبِينٍ» (سورة هود: ۶ ایت) ژباړه: په ځمکه کې هېڅ داسې کوم خوځنده ساکښ نشته چې د هغه روزي د الله ج په غاړه نه وي او د هغه په باب ونه پوهېږي چې هغه چېرې اوسېږي او چېرې هغه سپارل کېږي. هر څه په یو روښانه دفتر کې ثبت دي.

که موږ د دې آیت محتوی او مفهوم ته وګورو او بیا د پښتو دې متل ته سترګې را واړوو، نو له ورایه ځرګندیږي چې یاد متل د قرآن کریم د اغېزو خوندي نه دی. زموږ ولسونه په خپل خبرو کې همدا مفهوم د متل په توګه کاروي. لکه:

خدای تعالی د بنده روزي رسان دی (زرمتی، ۱۳۸۰ل).

که څه هم د اسلام مبارک دین په ځېنو کارونو کې د تیزۍ امر کړی، خو د دې معنا دا نه ده چې موږ او تاسو ټول دیني او دنیاوي کارونه بغیر له کوم سوچ او فکره په تادۍ او بېړې سره ترسره کړو. موږ باید هر کار په ډېر سوچ او حوصلې سره وکړو،

ځکه که چېرې له تادۍ او بېړې څخه کار واخلو کېدای شـــي، هغه کار د جوړېدو پرځای وران شـــي او پایله یې زموږ د توقع خلاف را ووځي. په دې اړه اللّهَ تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:« ... فَوَ كَزَهُ مُوسَـــى فَقَضَـــى عَلَيْهِ ... قَالَ هَذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَنِ» (سورة القصص: ۱۵) ژباړه: نو موسی (ع) هغه (قبطي) یو سوک وواهه او هغه مړ شو، موسی وویل: دا د شیطان په لمسون کار دی.

که موږ د دې آیت روح او پیغام ته وګورو او بیا د پښـتو لاندې متل ته وګورو، نو اغېز یې پرې له ورایه ښکاري. لکه چې وايي:

عجله د شیطان کار دی (یاسیني، ۱۳۸۲ل).

په ټولنه کې هر قسم خلك موجود وي، پوه هم پیدا کېږي او ناپوه یا جاهل هم، نو پوه کسان باید له ناپوه کسانو سره ځان برابر نه کــــړي، یعنې هغوی سره جر و بحث ونه کړي، بلکې له هغوی څخه ګوښــه اوســي او که پر مخه ورځي، له هغو لاره چپه کړي. په اړه یې اللّه تعالی په قرآن کریم کې فرمايلي دي: « ... وَءِاذَا خَاطَبَهُمُ الْجَهِلُونَ قَالُواسَــلَمًا»(ســورة الفرقان ۶۳ ایت) ژباړه: او که جاهلان یې مخې ته را شــي، نو ورته وايي: تاسې ته سلام.

اللّه تعالی خپل اصــلي بنده ګان هغه خلك بللي دي چې جاهل ســره بحث نه کوي، بلکې هغوی ته دوه لاسي سلام کوي. اوس که د دې ایت شریف لارښوونو ته ځیر شو او بیا د پښتو دغه متل تر نظر تېر کړو، نو راته جوته به شي چې پښتانه همدا مفهوم کټ مټ د متل په توګه په خپلو خبرو اترو کې کاروي. لکه چې وايي:

جاهل ته دوه ځله سلام کوه (صمیم، ۱۳۹۶ل).

که چېرې په انسان باندې هر څومره تکلیفونه او ستونزې راشي، نو باید له صبر او زغم څخه کار واخلي، ځکه دغه ستونزې او تکلیفونه د اللّٰه تعالی له لوري دي او بغیر له هغه څخه یې بل څوک د حل کولو قدرت او توان هم نه لري. که څوک په ژوند کې دغه کړنه تر سره کړي، نو اللّٰه تعالی یې ملګری او مرستندوی دی. اللّٰه تعالی یې په اړه په قرآن کې فرمایلي دي:« ... اِنَّاللَّهَ مَعَ الصَّبِرِينَ» (سورة الانفال: ۴۶ ایت) ژباړه: په یقیني توګه اللَّهَ ج د صابرانو ملګری دی.

که چېرې د قرآن کریم د دې ایت مفهوم او پیغام ته وګورو، نو پښتانه هم همدغه مفهوم کټ مټ د متل په توګه په خپلو خبرو کې استعمالوي. که یاد متل ته ځیر شو په بشپړ ډول د قرآن کریم پر بنسټ را منځ ته شوی او قرآني اغېز پرې څرګند دی. لکه:

صابرانو سره خدای ملګری وي (صمیم، ۱۳۹۶ل).

اللّٰه تعالی انسان ضعیف پیدا کړی، نه ښایي چې کبر او غرور وکړي، ځکه کبر او غرور له اللّٰه تعالی سره ښایي، انسان عاجز مخلوق دی او باید پر ځمکه په عاجزۍ وګرځي او د اللّٰه له اوامرو سرغړاوی ونه کړي. اللّٰه تعالی داسې خلک خپل اصلي بنده ګان ګڼلي او په اړه یې په قرآن کریم کې فرمایلي دي:« وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا...»(سورة الفرقان ۶۳ ایت) ژباړه: د الرحمان اصلي بند ګان هغه څوک دي چې پرځمکه باندې په ورو(په عاجزي) ځي.

که اوس د قرآن کریم د دې ایت مفهوم او پیغام ته وګورو، نو اغېز یې په لاندې متل څرګند دی. زموږ ولسونه دغه مفهوم د متل په ډول په خپلو خبرو کې استعمالوي او د انسانانو له پاره یې د خدای رحمت او پېرزوینه ګڼي. لکه:

عاجزي د خدای رحمت دی (صمیم، ۱۳۹۶ل).

په غیبو باندې علم او پوهه یوازې اللّٰه تعالی سره ده. اوسني انسانان څه چې پیغمبران هم ترې عاجز ول. د دنیا د ټولو پټو او ښکاره شیانو معلومات یوازې اللّٰه تعالی ســــره دي هغه د ځمکې او ا سمانونو په ټولو ا سرارو پوه او عالم دی. اللّٰه تعالی په دې اړه په قرآن کریم کې باربار فرمایلي دي: « عَلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَدَةِ ...»(سورة الرعد: ۹ ایت). ژباړه: هغه پرپټ او ښــــکاره هر څه عالم دی. همدارنګه بل ځای فرمایي:« وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّـــمَوَتِ وَالْأَرْضِ...»(ســورة النحل:۷۷ایت) ژباړه: او د اســمانونو او ځمکې د پټو حقایقو علم خو یوازې له اللّٰه جل جلاله سره دی. او داسې نور ایتونه هم د غیبوعلم باره کې راغلي.

اوس که د قرآن کریم د دې آیتونو پیغام او هدف ته وګورو، نو پښــتانه مشـــــــران او ځوانان همدا مفهوم په خپلو خبرو اترو کې د متل په توګه کاروي او د خپلې خبرې پخلی پرې کوي. له دې متل نه په ډاګه معلومیږي چې د قرآن کریم د مبارکو آیتونو پر بنسټ رامنځ ته شوی او اغېز یې پرې جوت دی. لکه:

غیب دلیل خدای لره دی (صمیم، ۱۳۹۶ل).

انســان یو ټولنیز مخلوق دی او ټولنیز ژوند لري. په ژوند کې له ســړو او تودو ســره مخ کیږي. انسانان کله په ستونزو کې وي او کله د خوښۍ شیبې تېروي، یعنې په یو حالت نه پاتې کیږي، یوازې اللّٰه تعالی په یو حالت دی. که په انسان هر څومره سختۍ را شي، نو انسان باید د اللّٰه تعالی له دربار نه ناامیده نه شي، ځکه اللّٰه تعالی په سورة النشــــرح کې په دې اړه فــرمایلي دي:« فَاءِنَّ مَعَ الْعُسْـرِ يُسْرًا »( سورة النشرح: ۵ ایت) ژباړه: نو بیشکه په سختۍ پسې اساني راځي.

که د قرآن کریم د دې ایت پیغام او مفهوم ولولو، نو زموږ ولسونه همدغه مفهوم د متل په بڼه په خپــــلو خبرو کې استعمالوي. له دې نه جوتیږي چې دا متل د قرآن کریم تر اغېز لاندې رامنځ ته شوی او اغېز یې پرې څرګند دی. لکه:

په زحمت پسې راحت دی (صمیم، ۱۳۹۶ل).

که چېرې انسان په ټولنه کې ښه وکړي، نو دی به په خپله هم د ښه ژوند نه برخمن وي او که بد کوي، نو ژوند به یې له ستونزو او کړاوونو ډک وي، یعنې د ښو په مقابل کې به ښه ویني او د بدو په مقابل کې به بد. اوس یې اختیار خپل دی چې ښه کوي که بد. اللّٰه تعالی یې په اړه دا سې کې فریایلي دي: « اِنۡ اَحۡسَنۡتُمۡ اَحۡسَنۡتُمۡ لِاَنۡفُسِكُمۡ وَاِنۡ اَسَأۡتُمۡ فَلَهَا...»(سورة: الاسراء: ۷ ایت) ژباړه: که تاسو ښه کوئ نو خپل ځان د پاره ښه کوئ او که بد کوئ، نو ځان سره بد کوئ.

که د قرآن کریم یاد مفهوم او پیغام ته نظر وکړو، همدغه مفهوم په لاندې متل کې په بشپړ ډول پروت چې پښتني ولسونه یې په خپلو خبرو کې د متل په بڼه وایي، له دې نه څرګندېږي چې یاد متل د قرآن کریم له مبارك آیت نه اغېزمن دی. لکه:

ښه هم د ځان سره دي او بد هم د ځان سره دي (صمیم، ۱۳۹۶ل).

دنیا د اخرت له پاره کښت او ښو مثال لري، که چا ښه وکړل، اجرونه او جنتونه به ووینې او که چا بیا بد وکړل، نو هم به یې پایله وګوري. الله تعالی داسې فرمایلي دي:(( وَمَا تُقَدِّمُوۡا لِاَنۡفُسِكُمۡ مِّنۡ خَيۡرٍ تَجِدُوۡهُ عِنۡدَ اللّٰهِ)) (سورة البقرة: ۱۱۰ ایت) ژباړه: تاسې چې د خپل عاقبت لپاره څه نیکۍ سرته ورسوئ، وراندې یې ولیږئ. د الله په وړاندې به هغه موجودې وموموئ.

په اړه یې په یو اثر کې لولو:(( دنیا دارالعمل ده. د اخرت د کامیابۍ او ناکامۍ دارومدار د دې دنیا په ژوند دی)) (ارمان، ۱۴۰۱ل).

د پورته آیت د مفهوم او پیغام اغېز په لاندې متلونو کې ښه ترا څرګند دی.

چې څه کرې، هغه به رېبې.

د نيا د اخرت توښه ده (زرمتی، ۱۳۸۰ل)

ظالم که په هره ټولنه کې وي، د ټولنې خلك ورته په بد نظر گوري، ځکه ظلم ښه شی نه دی، بلکې د ظالم عمر هم لنډ وي. اللّٰه تعالی په ظالمو خلکو لعنت ويلی او نه يې خوښېږي، په اړه يې په قرآن کريم کې فرمايلي دي: « وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّٰلِمِيْنَ...» (سورة ال عمران: ۱۴۰ ايت) ژباړه: الله جل جلاله ظالمان خلك نه خوښوي. بل ځای په قرآن کريم کې فرمايي:«... أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّٰلِمِينَ »(سورت هود: ۱۸) ژباړه: واورئ! پر ظالمانو د خدای لعنت دی.

که د قرآن کريم د پورته ايتونو پيغام او مقصد ته وگورو، نو ولسي خلك همدې مفهوم ته ورته خبره د متل په بڼه په خپلو خبرو اترو کې کوي، له دې نه معلومېږي چې ياد متل د قرآن کريم د اغېزو لاندې ايجاد شوی. لکه:

ظالم د خدای دښمن دی (ياسيني، ۱۳۸۲ل).

انسانان بايد له دا سې کړنو او فتنو نه ځان و ساتي چې د هغې په و سيله ټول انسانيت ته زيان ر سيږي، ځکه د اللّٰه تعالی رحمت خاص او عذاب يې عام دی. د گناهگارو خلکو له امله بې گناه خلکو ته هم عذاب ورسېږي، نو انسانان بايد له گناه کولو نه ځان وساتي. ځکه اللّٰه تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:« وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّاتُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآ صَّةً وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللَّهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ » ( سورة الانفال: ۲۵ايت) ژباړه: او له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغېزه به په ځانگړي توگه يوازې پر هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي چې په تاسې کې چا گناه کړې وي(بلکې نيکان به په کې هم راگېرېږي) او وپوهيږئ چې اللّٰه سخت سزا ورکوونکی دی.

که د قرآن کریم د دغه ایت مفهوم او پیغام له نظره تېر کړو، نو راته جوته به شـــي چې یاد مفهوم په لاندې متل کې له ورایه څرګندیږي، له دې معلومیږي چې یاد متل د قرآن کریم تر اغېز لاندې رامنځ ته شوی چې ولسونه یې اوس د متل په بڼه کاروي. لکه:

د وچو له غمه لامده هم سوځي (کریمي، ۱۳۶۰ل).

انسان یو ټولنیز موجود دی او ډېرې اړتیاوې هم لري چې د ټولنې له نورو انسانانو سره اړیکې ولري، که چېرې یو څوک پاک او سپېڅلی وي، نو له پاکو خلکو ســـره اړیکې پالي او که ناپاک وي، له ناپاکو خلکو ســـره اړیکې پالي په اړه یې په قرآن کریم کې اللّٰه تعالی فرمایلي دي:« اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ والطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ...» ( سورة نور: ۲۶ ایت) ژباړه: ناپاکې ښځې د ناپاکو نارینه وو له پاره او ناپاکه نارینه د ناپاکو ښـځو له پاره دي. پاکې ښـځې د پاکو نارینه وو له پاره او پاک نارینه د پاکو ښځو له پاره دي.

که د قرآن کریم د دې مبارک ایت موخې او پیغام ته نظر واچوو، همداســـې مفهوم او پیغام په لاندې متل کې هم وینو چې زموږ ولســـــي خلک یې د خپلو خبرو اترو کې د متل په بڼه کاروي. په یاد متل قرآني اغېز څرګند دی. لکه:

مرغان هغه سره کیني چې بڼې سره ورته وي (ژواک، ۱۳۸۲ل).

هر جنس له خپل جنس سره جوړیږي (صمیم، ۱۳۹۶ل).

د پښــتو یو بل متل دی چې خپل عمل د لارې مل دی، یعنې چې ښــه کار او عمل دې وکړ ښه به در سره کیږي او که بد عمل دې وکړ بد به در سره کیږي، یعنې پر ستا سو چې کوم مصیبت او عذابونه راغلي یا راځي، هغه ستاسو د عملونو پایله ده. اللّٰه تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:« وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ...» (سورة

شورى: ۳۰ ایت) ژباړه: پر تاسې چې هر مصیبت راغلی دی، ستاسې د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دی.

موږ که د دې ایت شریف مفهوم ته وګورو او بیا د پښتو د دې متل بیخ ته ورکښته شو، نو په ډاګه څرګندیږي چې د قرآن کریم اثرات پرې پراته دي.

چې بد کوي، بد به مومي

چې بد ګرځي، بد به پرزي (وفا، ۱۳۹۶ل).

که چېرې د دنیا ټول خلک راټول شـي چې چا ته الله تعالی عزت ورکړی وي، هغه نه شـي بې عزته کولی، یعنې عزت ترې نه شـي اخیسـتی او چې څوک یې بې عزته او ذلیله کړی وي، د دنیا ټول خلک هغه ته عزت نه شـــي ورکولی، الله تعالی په قرآن کریم کې په دې اړه فرمایلي دي:«... وَتُعِزُّ مَنْ تَشَــآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَــآءُ ۖ بِيَدِكَ الْخَيْرُ... »( سورة ال عمران: ۲۶ ایت) ژباړه: چا ته چې دې خو ښه شي عزت ورکوې او څوک چې وغواړې ذلیله کوې یې. ښېګڼه ستا په واک کې ده.

که د دې ایت مفهوم او تفسیر ته وګورو، په لاندې متل یې واضـح اغېز او اثرات پراته دي.

عزت ذلت د خدای(ج) له لوري دي.

د خدای او د بنده اراده یوه نه وي انســـان زیاتره وخت د یو کار د کولو اراده او تکل لري، ولې هغه کار نه کیږي، هغه څه کیږي چې د الله تعالی خوښــه او اراده وي، یعنې څه چې په تقدیر کې لیکل شــوي وي. په اړه یې الله تعالی داســې فرمایلي دي:« وَمَا تَشَآءُونَ اِلَّآ أَنْ يَشَآءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَلَمِينَ »( سورة التکویر: ۲۹ ایت) ژباړه: او ستاسې په غوښتنه هېڅ نه کیږي، ترڅو پورې چې د عالمیانو د پروردګار الله خوښه نه وي.

موږ که د ایت شریف معنی او مفهوم ته په غور سره نظر وکړو، نو راته جوته به شي چې دغه متل زموږ ولســـونه د تصـــدیق او قناعت له پاره په خپلو خبرو کې کاروي، د قرآن کریم له پورته ایت نه اغېزمن شوی. لکه:

تقدیر په تدبیر نه بدلیږي (صمیم، ۱۳۹۶ل).

د قصاص په اړه الله تعالی داسې فرمایلي دي: « يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى...» (سورة البقره: ۱۷۸ایت)

ژباړه: ای مومنانو! ستا سې له پاره د قتل په دعواوو کې د قصاص حکم لیکل شوي دی: که ا صیل (آزاد) قاتل وي له هماغه ا صیل (آزاد) څخه دې بدله واخیستل شي او که غلام قاتل وي؛ نو هماغه غلام دې ووژل شـــي؛ که ښـــځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې څخه دې قصاص واخیستل شي.

د همدې آیت مفهوم او پیغام اغېزې په لاندې متل باندې خورې دي:

قصاص په قصاص روا دی (زرمتی، ۱۳۸۰ل).

په دنیا کې هر څه پناه کېدونکي دي او هېڅ شـــی او څېز نه پاتې کیږي، یوازې د الله تعالی نوم او شان شوکت به په خپل ځای پاتې وي، همدې خبرې ته قرآن کریم داسې اشـــاره لري: « كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ«۲۶» وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَلِ وَالْإِكْرَامِ»(ســـورة الرحمن: ۲۶ـــــ۲۷) ژباړه: هر څه چې پر دغې ځمکې باندې دي، فنا کېدونکي دي؛ او یوازې ستا رب چې د جلال او درناوي خاوند دی، باقي پاتې کېدونکی دی.

د دې آیت د مفهوم اغېزې په لاندې متل کې وینو.

خدایه تل به ته یې ( صمیم، ۱۳۹۶ل).

د دنيا په ټولو چارو کې دروغ ناروا کړنه ده او په اسلام کې په مطلق ډول ناروا دي. الله تعالی داسې فرمايلي دي: «... فَنَجْعَل لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَذِبِينَ »(سورة ال عمران: ۶۱ ايت) ژباړه: که هر څوک دروغجن وي، پر هغه دې د خدای لعنت وي.

د همدې آيت د پيغام او معنا اغېز په دې لاندې متل ښه ترا ځرګند دی.

دروغجن د خدای دښمن دی (زرمتی، ۱۳۸۰ل).

**پايله**

د دې څېړنې په پايله کې په ډاګه شوه چې په پښتو ژبه کې ډېر داسې متلونه شته چې له قرآن کريم څخه په کې نېغ په نېغه ګټه پورته شوې او يا يې ترې اغېز اخيستی دی، له دې نه معلومېږي چې د قرآن کريم اثرات يوازې په ليکوالو، شاعرانو او عالمانو نه دي، بلکې ولسي خلکو هم د قرآن کريم له ايتونو الهام اخيستی. په پښتو ژبه کې داسې ډېر متلونه شته دي چې د قرآن کريم د ايتونو کټ مټ ژباړه يا يې مفهوم په خپله ژبه بيان کړی چې ولسي خلك يې د ټولنې د سمون او رغون له پاره د نصيحت او لارښوونې په توګه وايي. دغه مفاهيم يې په ذهنونو کې داسې هضم شوي چې اوس يې په خپلو مجلسونو کې د متل په بڼه وايي.

د پښتو د متلونو د کېسو او سپړلو په اړوند چې کوم کتابونه ليکل شوي، په دې کې يوازې همدمره يادونې شوي چې په ځينو متلونو د قرآن کريم اغېزې پرتې دي، خو داسې په پر پله پسې توګه چا پرې کار کړی نه دی، همدې ته په کتو سره مې وپتيله چې يوه ځانګړې مقاله پرې وليکم، دا متل د قرآني اغېزو له مخې داسې وڅېړم او وسپړم چې نورو ليکنو سره ځرګند توپير ولري. په دې مقاله کې مې له شلو زيات هغه متلونه راوړي چې قرآني اغېزو په رنګ کې رنګين شوي دي. دا يوه ډېره پراخه

موضـــوع ده، نو ډېر کار ته اړتیا لري. بس موږ په ډېر لنډه توګه ځینې متلونه د قرآني اغېزو په رڼا کې سپړلي دي.

**وړاندیزونه**

قرآني متلونه په پښـــتو ژبه کې ډېر دي، له څېړنکو نه هیله لرم چې په دې خوا خپلې تحلیلي مقالې ولیکي، چې لوستونکي یې له دیني پسمنظر نه خبر شي.

پښتو ژبه کې ډېر داسې متلونه هم شته چې د احادیثو پر بنسټ رامنځ ته شوي، په دې برخه کې هم باید کار وشي او یوه ښه مقاله پرې ولیکل شي.

**ماخذونه**

القرآن کریم. پښتو ژباړه او تفسیر، قیام الدین کشاف.

ارمان، شهاب عزیز. (۱۴۰۱ل). د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآن او حدیث اثرات، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست. ۴۶۲ مخ.

پتنګ، عبدالکریم.(۱۳۷۵ل). ګړنی ادب، کابل: د ښوونې او روزنې د وزارت د تألیف او ترجمې ریاست د عرفان مجله. ۴۶ مخ.

زرمتی، نورمحمد نور. (۱۳۸۰ل). د کانې کرښــې پښــتو متلونه، پېښــور: هوتک لیزر کمپیوټر ګل حاجي پلازا. ۱۴۱، ۱۸۶، ۲۸۳، ۱۸۵ مخونه.

ژواک، محمد دین. (۱۳۸۲ل). پښتو متلونه، پېښور: الازهر خپرندویه مؤسسه. ۱۲۶ مخ.

صمیم، محمدآصف. (۱۳۹۶ل). د متلونو کلیات، جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه. ۴، ۳۰، ۱۱۶، ۳۷۶، ۳۸۱، ۳۹۶، ۷۸، ۳۷۴، ۲۸۸، ۱۰۳، ۱۸۸.

کړوال، شــاه محمود.(۱۳۹۴ل). د پښــتو متل ســپړنه. کابل: د افغانســتان ملي تحریک، فرهنګي څانګه. ۱۰۵، ۱۰۶ مخونه.

کریمي، شیرمحمد.(۱۳۶۰ل). (ژباړه) ـــ تاربرن لیکوال: پښتو متلونه، کابل: د افغانستان د علوماکاډمي، د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز. ۳، ۹، ۸، ۱۴، ۷۸ مخونه.

وسـیم یوسـفزی، فرهاد علي.(۲۰۱۴م). د متـــــلونو په لار، (دویم چاپ)، پېښـــــــور: یونیورسټي بک ایجنسي. ۱۱، ۱۶مخونه.

وفا، محمدداود.(۱۳۹۶ل). د پښتو متلونو اوسنی اوښتی حالت، کابل مجله، دریمه دوره، دریمه او څلورمه ګڼه، کابل: د علوماکاډمی، د اطلاعاتواوعامه اړیکوریاست. ۳، ۱۲ مخونه.

یاسیني، مولوي عبدالشکور.(۱۳۸۲ل). ولسي پانګه، پېښور: خښي کولتوري ټولنه. ۱۸۵، ۱۸۵ مخونه.